# د لنډۍ او دوبېتي عروضي جوړښت او پرتلنه
# Poetic Relationship of Landay and Dwabaiti

Lal Pacha Azmoon*

**Abstract**

In a broad sense, Landi and Quatrain are the poetic speeches of folkloric literature which contribute a specific artistic touch to the speeches. Most of the time Quatrain reflects masculine emotions and feelings while Landi reflects feminine feelings. Landi and Quatrain embody the feelings, sentiments, and demands of the Afghan nation. Landi and Quatrain came into being by people but with the development and progress, the educated poets of our society have also treated well these genres. The great characteristics of Landi and Quartrain are that it is not bound to any specific speakers, age and time. Landi is known by people by different names such as Misra, Tappa, and Tikkai while quartrine has been called anthem or Tarrana. Quatrain has adopted this name through musical beats which have been sung by folkloric singers. As far as it is the property of the people and has been created in the villages, therefore it has maintained these folkloric values. Pashto Landi reflects of thoughts of the Afghans in a Poetic Language. The first verse of Pashto Landi is made up of 9 syllables and the second verse is 13 syllables. Dwabaite is embodying the thoughts of the Afghans and it has either two or four verses.

## ۱ سریزه

د پښتو لنډۍ او دري دوبېتي پرتله دمنځپانګې، انځورونو، بدیعي اوهنري اړخونو، لفظي، معنوي او عروضي جوړښت له مخې تر سره کېږي. په دې لیکنه کښې هڅه کوو چې لومړی لنډۍ او بیا دوبېتي په بشپړه توګه څرګنده کړو، له څرګندونو به په خپله دا را اوځي چې دغه دواړه فولکلوري لوړې هنري شعري بېلګې یو له بل سره څهٔ توپیر لري که نه؟

Associate Professor, Pashto Language and Literature Department, Kabul University, Afghanistan.*

څهٔ رنګه چې جوته ده لنډۍ او فارسي اولسي دوبېتي له بنسټه فولکلوري شعري ارزښتونه دي، وېناوال ئې هم څرګند نهٔ دي. ددغو دواړو ارزښتونو ترمېنځ يو لړ ځانګړنې شته چې دغه منظوم له شعري جوهره ډک فورمونه سره پرتله کړو.
نو په لومړي سر کښې به ددوي پېژندنه وړاندې شي، بيا به ئې دجوړښت له پلوه بېلابېلې خواووې څرګندې شي ـ ددغو خواوو په شنلو او ارزولو سره به ددوي ترمنځ ورته والے او توپير هم په ګوته شي.

## ۲ موخه

له دې ليکنې څخه زمونږ يوازېنۍ موخه داده چې د اولس له منځه راپورته شوي دغه منظوم فورمونه څهٔ ارزښت لري، يوه له بله سره څهٔ ورته والے لري او که نه؟ له څهٔ امله دغه دوه شعري فورمونه په خلکو کښې مشهور دي؟ په دغو دوو فورمونو کښې کومې ځانګړنې شته چې دهغوي له مخې ئې له نورو فولکلوري منظومو شعرونو سره توپير کېدلے شي. دا چې دغه بېلګې څنګه رامنځته شوې دي او کوم هغه اړخونه يا ځانګړنې دي چې دا ئې له نورو جوت او خوندور کړې دي ـ

## ۳ اصله موضوع

لنډۍ دپښتو هغه فولکلوري يا اولسي ادب لوړ شعر دے چې د اولس له خوا د اولس په ژبه او د اولس په منځ کښې زېږېدلے دے ـ توکي ئې اولسي يا پښتني دي ـ په همدغو توکيو دخپل چاپېرچل هنري انځور وړاندې کوي ـ دو بېتي هم دلنډۍ په څېر هغه منظوم شاعرانه کلام دے چې د اولس په ژبه، د اولس له خوا د اولس په منځ کښې زېږېدلے دے او دخپل چاپېرچل هنري انځور په کليواله يا اولسي ژبه وړاندې کوي.د لنډۍ دزوکړې مهال د فولکلوري اصل پر بنسټ پوره جوت نهٔ دے ـ خو په لنډه او ګڼډه وېنا کښې دبېلابېلو زمانو او پېښو هنري انځور وړاندې کوي.دوبېتي هم دلنډۍ په څېر د فولکلوري اصل له مخې دزوکړې کوم ټاکلې مهال نهٔ لري خو له لنډۍ سره يو توپيرلري چې په دوو بېتونو يا څلورو برابرو مېسرو کښې دبېلابېلو زمانو، ځايونو اوپېښو هنري انځور په لوړ ذوق او شاعرانه ژبه وړاندې کوي ـ د لنډۍ وئيونکي هم د فولکلوري اصل له مخې څرګند نهٔ دي، په يوه سيمه کښې د يو چا له خوا رامنځته شوې، هم داسې کور په کور، کلي په کلي، دېره په دېره، حجره په حجره، بانډه په بانډه او سينه په سينه ګرځېدلې، د بېلابېلو سيمو اوبهٔ ئې څښلې دي ـ دبېلابېلو وختونو په غېږ کښې رغېدلې او هم داسې ئې د خلکو په خولو او سينو کښې ژوند کړے دے ـ

د دوبېتي هم دلنډۍ په څېر دفولکلوري اصل له مخې وېناوال مشخص نۀ دي ـ دخلکو په خولو او سینه په سینه له یوې سیمې بلې سیمې ته لېږدېدلي او دبېلابېلو وختونو او سیمو اوبۀ ئې څښلې دي ، چې پر هم دې بنسټ ئې رنګ او خوند موندلے دے ـ لنډۍ د انساني ژوند وژواک یو هنري تفسیر دے چې په عاطفي، تغزلي اومترنمه ژبه په لوړه او کره بڼه دپښتني ټولنې احساسات، توره ، ننګ، مسافري، غوښتنې هیلې او کړۀ وړۀ وړاندې کوي، دښځې او مېړۀ ترمنځ کورني ژوند، پښتني دودونه او ځانګړي مراسم رااخلي ـ

رېباره ورشه ورته وایه
که دبدیو زور لرې درسره ځمه

جانانه ویښ ئې که ویدۀ ئې
ستا تر کوټې مې لاس ټړلې تېروینه

په وینو رنګ توره دې راوړه
راشه په سرو شونډو ئې زۀ در پاکومه

که تور وربل مې میراتېږي
په پښتو ننګ دې جانان نۀ منع کومه

په لنډیو کښې دښځې دریځ او محرومیت یوه هنري تابلو وړاندې کوي، دا چې لنډۍ خوږه لګي یو لامل ئې هم دا دے چې د ټولنې د یوې محرومې طبقې دزړۀ غږ را اخلي، د پښتنې تور سرې او پېغلې د هیلو ترجماني کوي :

د رنجو ګوډے مې ساتلے
د موزیګې په مرګ به سترګې تورومه

پرېږده چې بند په بند مې پرې کړي
ماچې د ژړیو یاري کړه مرګ ته ورتلمه

خاونده پلار مې لېونے کړې
داشنا غېږ پسې ړنده شبکوره شومه

زما ادې دادا ته وایه
خوشاله نۀ یمه له ناکامه کور کومه

دوبېتي هم دغه ځانګړنې لري، په دوبېتيو کښې له ښځينه احساسه زيات نارينه احساس په عاطفي، تغزلي او مترنمه ژبه انځور شوي دي، په دوبېتي کښې دلنډيو په څېر کورني او اولسي ژوند، کليوال دودونه او اخلاق، مذهبي اړخونه او ځانګړي دوديز مراسم انځور شوي دي ـ

الا دختر ببیین روی خدا را
سواری می کنی اسپ سیاه را
اگر یک دم به پهلویم بشنی زیارت
می کنی خانی خدا را [4, ۱۶]

مسلمانا ببیین دخترک را
سیه کرده دوچشمانی خورترک را
مسلمانا به دختر دل نبندین
که بازی می دهد چرخ فلک را[4, ۲۵]

په لنډيو کښې رښتيني وېنا، لوځه او بربنډه ژبه او مسائل انځور شوي دي ـ دغه مسالې هم د محروميت زېږنده دي ـ

جانانه ستا مزګې نۀ شته
زما همزولې زانګو ګانې زنګوينه

کاش کي چې زۀ دملک لور وے
ما به پرتوګ دکوناټو په سر تړنه

په سپينه خوله ئې غلې پرېوزه
لکه بورا چې په ګل مړاوې کړي وزرونه

جانانه بد مې اموخته کړې
چې خوله درنه کړم مرور ګرځې مئېنه

په دوبېتيو کښې هم دلنډيو په څېر بربنډې خبرې او مسائل چې دکليوال يا اولسي ژوند محروميت ښائي، وړاندې شوي دي ـ

بیا چن بوس از اون لبها بگیرم
یکی دوتا سه تا چار تا بگیرم
یکی دوتا سه تا چار تا چی باشه
اگر شفقت کنی صدتا بگیرم [4, ۸۴]

تر دا دیدم میان کشت گندم
دلم خواست که دنبالت بگردم
دلم می خواست که چند بوس بگیرم
صدا کردی که استم مال مردم[4, ۸۸]

په لنډيوکښې دنورو اړخونو ترڅنګ د مسافرۍ بېلابېل انځورونه وړاندې شوي دي، مسافري دپښتو لنډيو يو خاص باب دے ـ

مسافري دې ډېره اوکړه
راځه راځه روضي به خدائے رارسوينه

تۀ مسافر شوې خواره زۀ شوم
خواره دې مور شه چې له غېږې دي شړينه

مسافرۍ خوړلي ياره
قربان قربان دې له خيرنو جامو شمه

په دوبېتيو کښې هم د مسافرۍ بېلابېل انځورونه وړاندې شوي دي، لامل ئې دا کېدے شي چې دافغاني ټولنې غربت، بې کاري او دعاشق او معشوق کورنۍ تر منځ دجګ ولور يا شرط پوره کولو له پاره مئين په خوارۍ او غريبۍ پسې اوږدې مسافرۍ ته وتلو، د وطن ارمان او د معشوقې دين ئې په زړۀ وربرې، نو دغه شاعرانه غبرونه له خولې راباسي:

مسلمانا درين شهر شما يم
غريب وبيکس وبی اشنا يم
چلم پرکن بده به هر مسافر
که امشب اينجا وفردا کجا يم[3, ۶۴]

وطن دې ستا وي په کښې اوسه
مونږ مسافر دبل وطن سبا به ځونه

خدايا زار و ابتر کردی مارا
مسافر پايی کمر کردی مارا
مسافر پايی کمر هم چه باشه
رفيق زاغ وکفتر کردی مارا [4, ۱۴]

## ۱.۳ دزده کړې انځور

زیار بی وفا بیگانه بهتر
زبد اصلان سگی دیوانه بهتر
اگر صد سال مکتب خوانده باشی
ز علم بی عمل نا خوانده باشی[3, ۵۳]

لنډۍ:

چې علم وي عمل ئې نۀ وي
لکه په خرۀ باندې چې بار کړي کتابونه

زما دې علم په کار نۀ دے
داباسین څپې دې یوسه کتابونه

طالبه خدائیگو که ملا شې
په کتاب پروت ئې یادوې شینکي خالونه

## ۲.۳ مذهبي اړخونه

محمد نقش می بنده هوا را
به دس داره قلمدان صدا را
به فردا قیامت روز محشر
شفاعت می کنه شاوگدا را [4, ۱۰]

لنډۍ:

چې خدا ے قاضي رسول شفیع شي
هلته به پیش کړم دعاشقو درخواستونه

په عاشق بد مه وایئ خلکو
عاشق خوخدا ے وۀمحمدئې پیدا کنه

الف الله ج جبرائیل دے
م محمد دے دالله سلام ته ځمه

دوبیتي:

رسول الله مدد می خواهم از تو
ز اول تا ابد می خواهم از تو
شب اول که من مهمان گورم
کلمه در لحد می خواهم از تو [4, ۱۲۸]

## ٤ لنډه

لنډۍ څو نومه لري لکه مصرعه ، ټپه او ټیکی ـ د لنډۍ د نوم په باب بېلابېل تعبیرونه وړاندې شوي دي ـ خو دوبېتي هم پرته له دغه نومه د( ترانه او فهلويات) په نومونوهم يـاده شوې ده، ددغو نومونو په باب کوم روایت زما تر سترګو نۀ شول ـ خو د لنډۍ بېلابېل نومونه په اولس کښې یو لړ روایات هم لري ((...په خپله د لنډۍ په باب یو روایت دادے چې لنډۍ د هغه مار له نوم څخه اخیستل شوے نوم دے چې دوه سره چیچل کوي ـ د دغو چیچلو اغېز زیات وي ـ

زلفې مې مه لنډوه مورې
مار چې لنډے شي دوه سره خوله لګوینه

دا یوه لنډۍ ده ، په دې لنډۍ کښې د زلفو ارزښت او ښکلا څرګنده شوې ده ـ نو لنډۍ هم په همدغه لنډ بحر کښې یو بېل ارزښت او ښکلا لري ـ
د لنډۍ نوم په خپله په لنډیو کښې هم راغلے دے :

لنډۍ کوه او بیا ئې لیکه
چې په ټولې کښې شرمېنده نۀ شې مئېنه

## ۵ مصرعه

دا هم دلنډۍ یو نوم دے ـ یو روایت دا دے چې دا د یوې تورې له صفت څخه اخیستل شوے نوم دے ، مصرۍ توره یو نوم دے ، هغې تورې ته وئیل کېږي چې تېره او برېښنده وي ـ
بل روایت دادے چې مصرعه له مصرع څخه اخیستل شوې ، هم دارنګه دغه مصرع په مصرعې اوښتې ده ، مصرعه خواږه یا چیني ته وائي نو په لنډۍ کښې خوارۀ زیات وي ـ

### ۱.۵ مصرعه د مصرعې یا لنډۍ په ژبه

مصرعې په هغه چا اثر کړي
چې یا مئېن وي یا خو ورک له ملکه شینه

مصرعې په هغه چا اثر کړي
چې یا مئېن وي یا ئې پېغله ناسته وینه

مصرعې دي ډېرې څو به وايم
ترڅو ئې وايم دزړهٔ درد مې زياتوينه

## ۶ ټيکۍ

دا د لنډۍ بل نوم دے ، ټيکۍ له ټيک اخيستل شوے دے ـ ټيک هغه ګاڼه ده چې پرتندي راځړېږي او ښکلا ئې د ټولو پام ځانته راا ړوي ، نو لنډۍ هم هغه ټيک دے چې په شعري فورمونو کښې د خلکو زيات پام ځان ته راا ړوي او ښکلې ده ـ
ټيکۍ د ټيکۍ يا لنډۍ په ژبه داسې ياده شوې ده:

ټيکۍ مې ډېرې درته اوکړې
په لااله الاالله ئې ختمومه

ټپه : ټپه دټپې په ژبه داسې ياده شوې ده:

دټپې وار راسره کېده
ماته بې واره ټپې خوند نهٔ راکوينه

دا نيمه شپه ده ټپې خوند کړي
څوک به مئېن وي څوک به ورک له ملکه وينه

دا نيمه شپه ده ټپې وايه
څوک به مئېن وي څوک به ورک وي له وطنه

دټپې وار درباندې راغے
شفتل خورکښې رنګ دې زېړ وتښتېدنه

ټپه له ټپ څخه اخيستل شوے نوم دے ـ ټپ د دوه لاسونو له لګېدو رامنځته کېږي او هم ټپ د يو سخت ګزار له امله رامنځته کېږي او هغه ځاے شين اوړي ټپ د هېرېدو نهٔ وي ـ د پيغور ټپ خو بيا عمري وي ـ دغه ټپ چې د لاس له ټپېدو څخه اخيستل کېږي ، دا هم د دوه لاسو له اوازه را وځي ، لنډۍ هم د دوه مصرعو يو اهنګين غبرګون دے ـ
بل روايت داد ے چې سندرغاړي ددغه صنف دوئيلو پر مهال دزيات اغېز له امله يو غوږ په يولاس ټپوي او له ياقربانه وروسته ټپې ته ځان جوړوي ـ دا هغه څرګندونې دي چې کوم علمي استدلال نهٔ لري ، خو فولکلوري روايتونه دي ، کېدے شي دې ته ورته نور روايتونه هم موجود وي . [2, ۶۲]

## ۷ دلنډۍ جوړښت

لنډۍ ځانګړې موسيقيت يا ردم لري، د پښتو څپيز خجيز وزن پالي، لومړۍ مصرعه ئې نهه څپې او دويمه ئې ديارلس څپې ده ـ تونيک جوړښت ئې داسې دے چې په لومړۍ مصرعه کښې څلورمه او اتمه مصرعه ئې خجنه ده او په دويمه مصرعه کښې ئې څلورمه، اتمه او دولسمه څپه خجنه ده ـ

توتان پاخۀ ممانړې تورې
زۀ د موزي د ډوډۍ څۀ پروا لرمه

تو ـ تان ـ پاـ خۀ ـ م ـ ماـ نړې ـ تو ـ رې
زۀ ـ د ـ مو ـ زي ـ د ـ ډو ـ ډۍ ـ څۀ ـ پر ـ واـ ل ـ ر ـ مه

دويمه مصرعه ئې په ( ونه، ينه، ئنه، نۀ، مه، ه) وروستاړو پائي ته رسي، همدغو وروستاړو ددغې شاعرانه وينا موسيقيت او ښکلا زياته کړې ده ـ
ونه :

په لوړو غرو د خدائے نظر دے
په سر ئې واورې وروي ، چاپېر ګلونه

ينه :

مازيګرے دے ښېرې مه کړه
تۀ به د ناز ښېرې کوې رښتيا به شينه

نه :

زما په رنځ جانان خبر دے
دارو خو نۀ کړي ، تش مې نۀ کوي پوښتنه

مه :

د يار مې پېغله خور په کور ده
نيستي د ورور ده ، چې بدله ورسره شمه

د لنډۍ دويمه اوږده مصرعه مانا او انځور بشپړونکې مصرعه ده ـ که دا مصرعه اونۀ وئيل شي نو لومړۍ مصرعه يواځې بشپړه مانا او مفهوم نۀ شي رسولے ـ

زۀ به دې مورته زاري اوکړم

دا مصرعه په يوائې ځان انځور يا مفهوم نهٔ بشپړوي خو چې دويمه مصرعه ورسره مله شي نو انځور او مفهوم بشپړ شي:

پلار دې ظالم دے د ولور طمع کوينه

لنډئ په خپلې تنگې ۲۲څپیزې غېږکښې لکه سين په کوزه کښې ځايوي ـ
لنډئ په همدې جوړښت کښې بشپړه مانا او مفهوم رسوي، مشبوع شعر دے، نورې زياتونې يا کمونې نهٔ مني ـ که پر لنډيو څوک څهٔ ورزياتوي، هغه ددې مانا لري لکه په يوهٔ پاخهٔ دېوال پورې چې څوک ختې تپي ـ

## ۸ د دوبېتي جوړښت

دوبېتي لکه څنګه چې له نامه ښکاري، دوه بېته يا له څلورو مصرعو جوړ شوے شعردے ـ د وزن دجوړښت له مخې بيا د دري فارسي ژبې د نظم دجوړښت اصل پالي، دلنډئ په څېر څپیزخجيز يا سېلابوتونيک وزن نهٔ لري، بلکې دعروضي وزن پر بنسټ رامنځته شوے منظوم کلام دے ـ (( دوبېتي کوم ځانګړے او منحصر وزن نهٔ لري که څهٔ هم شمس قيس رازي د (( العجم في معاير اشعار)) کتاب ليکوال وئيلي دي چې د ترانې وزن (( مفاعلين مفاعيلن فعولن)) يعني محذوف مسدس هزج او يا مقصور مسدس هزج دي چې (( مفاعيلن مفاعيلن مفاعيلن)) دے ـ په دې بنسټ ليدل کېږي دکتاب المعجم ليکوال دوه بېتي يا ترانې په عروضي وزنونو سنجولې او ځينې نامعمول زحافات (غورځېدنې) ئې په کښې پيدا کړې دي ـ سيمه ييز شاعران ئې ددې ډول ښوئيدنو عاملين ګڼلي دي، هم دارنګه هغه شمېر دوه بېتي ويونکيو ته هم لېدلي دي چې له نومړو وزنونو څخه ئې تېرے کړے دے ـ په داسې حال کښې چې دشعر وزن د وېناوال په لېوالتيا پورې اړه لري او په کلام کښې دوزن قواعد اخلې حکم نهٔ دے چې له هغو تېرے ګناه اوګڼل شي ـ څهٔ رنګه چې دوه بېتي زياتره د نالوستو يا کم لوستو کسانو له خوا وئيل شوې، له دې امله ئې په وزنونو او بحرونو کښې ډېر تغيرات ليدلے شو...)) [1, ۷۴۳]
خو له دې څرګندونو سره سره يو شمېر ليکوالو بيا وئيلي چې دوبېتي د محذوف مسدس هزج ( مفاعيلن، فعولن) بحر رااخلي، ټولې دوه بېتی پر همدې وزن وئيل شوې دي ـ

درختای سر/ بلن سر شی/ وه گردد
مفاعيلن / مفاعيلن / فعولن
درختای خور/ ترک پرمی / وه گردد

مفاعیلن / مفاعیلن / فعولن
اگر از آ / سمان دختر/ ببارد
مفاعیلن / مفاعیلن / فعولن
بشینم تا / گل من بی / وه گردد
مفاعیلن / مفاعلین / فعولن
[4, ۱۲]

دوبېتي مقيد وزن لري او مقفی کلام دے ـ لومړی، دويمه او څلورمه مصرعه ئې هم قافيه وي ـ

دوبېتي دفولکلوري ادب ځانګړنې لري نو پر همدې بنسټ وئيلے شو چې دغه اولسي شعر دعروضي شعر تر رامنځته کېدو له مخه زېږېدلے دے او له يوه نسله بل نسل ته هم داسې په ميراث راپاتې دے ـ وئيل کېږي چې دغه شعر په لومړي کښې هجائي وزن لاره خو د وخت په تېرېدو سره همدغه هجائي وزن دعروضي وزن پر تله اوتلل شو ـ دوبېتي که درباعي په څېر څلور مصرعې لري، خو له فارسي رباعي سره ئې توپير دادے چې(( که د دوؤ بېتو ټوټې يا مصرعې د ولاحول ولاقوه الا بالله پر وزن وي، نو رباعي ده، که نۀ وي دوبېتي ده، ... د دوبېتو دوديز وزن فهلويات دي ...))[4, ۳۶]

ما چې کومې دوبېتۍ ليدلې دي، هغه دڅپو دشمېر له مخې يولس وې ـ خو تونيک جوړښت نۀ لري ـ

د لنډيو په پرتله ددوبېتيو غبرږ پراخه ده، ځکه دوبېتي ټول ټال ۴۴ څپې لري، او دلنډۍ په څېر په کښې دا قېد هم نۀ شته چې خامخا دې په څو همغږو وروستاړو پاے ته اورسي، بلکې دلته خبره دقافيې ده، دقافيې غبرږ بيا تر هغو همغږو تورويو پراخه ده ـ

د دوبېتي بشپړونکې مصرعه څلورمه ده، که څلورمه مصرعه اونۀ وئيل شي، نو ګومان نۀ کوم چې يو بشپړ انځور او مفهوم به رسول شوے وے ـ

جوان که ناجوان باشه گمش کو
رفيق که بدگمان باشه گمش کو
نروين درخانه ي شيخ و ملا
سرش بر اسمان باشه گمش کو[4, ۱۳۱]

په دې دوه بېتۍ کښې انځور او مفهوم بشپړونکې مصرعه هم دا څلورمه ده ـ
د دوبېتي موسيقي دلفظونو همغږۍ او قافيې برابره کړې ده ـ

ز عشقت ترک سر کردم چه فايده
خوده خون جگر کردم چه فايده
به خاکستر نشستم تا به زانو
خوده خاکی به سرکردم چه فايده[4, ۱۴۴]

په دې دوبیتۍ کښې سر او جګر، سر( خاورې پر سر شیندل یوه اصطلاح ده، چې مفهوم ئې دچا په غم کښې ځان شریکول یا په یاد ئې ژړل مانا او مفهوم ورکوي)
قافیې دي او (کردم چه فایده) چې په یوه مفهوم او مانا راغلے، ردیف دے۔

ددې شاعرانه وېنا موسیقي هم دا قافیه او ردیف برابروي، تر څنګ ئې په لومړۍ مصرعه کښې د(ز) (ترک) (چه) کسرې، په دویمه کښې د(خوده) (خون) (چه ) کسرې، په درېیمه کښې د(به) (خا)(تا) (به) وروستیو غږونو او په څلورمه کښې بېرته له لومړۍ او دویمې سره د(خوده) (خاکي) او(چه) وروستیوکسرو همغږۍ لفظي موسیقي برابره کړې ده۔ نو له لنډۍ سره په وزني جوړښت سربېره یو توپېر دا لري چې دوبیتي مقفی کلام دے۔

دلنډۍ او دوبیتي موضوع او وېناوال: په موضوعي لحاظ پښتو لنډۍ او د دري دوبیتي زیاتره مهال دمینې، لطف، ټولنیزې خواووې، تاریخي مسالې، ناخوالې او محرومیت رااخلي۔

لنډۍ زیاتره مهال دښځینه ؤ له خوا وئیل کېږي، ځکه چې په پښتني ټولنه کښې ښځه تر نارینه له محرومیت سره زیاته مخ وي، خو دوبیتي بیا د ښځو او نارینه دواړو له خوا وئیل کېږي، خو بیا هم دلنډۍ په پرتله له ښځې نه په کښې د نارینه ؤ ونډه زیاته برېښي۔

زما له نظره دا چې دلنډۍ وېناوالې زیاتره ښځې دي او ښځینه احساس هم په کښې زیات انځور شوي دي، لامل ئې دادے چې په پښتني ټولنه کښې ښځې دنارینه ؤ په مناسبت له محرومیت سره زیاتې مخامخ وي،ښځې له نارینه ؤ سره په غربت او خوارۍ کښې شریکې وي، درد ئې دواړه ګالي خو د یوازیتوب او محرومیت څپېړې تر نارینه ؤ ښځې زیاتې پر مخ خوري، په پښتني ټولنه کښې دعاشق او معشوقې ددیدنونو له پاره ځایونه او پلمې هم شته، لکه در واخلې ګودر د لارې سر دلته جینۍ دخبر په غونډه نهٔ کښښني او نهٔ د مړې خېټې پاړسي غږوي، بلکې زیاتره دردونه جینۍ ګالي - جینۍ د خپل لالي په مسافرۍ ژاړي او باران ته دسوال ځولۍ نیسي چې:

بارانه ورو ورو پې ورېږه
په مسافر اشنا مې نهٔ شته دالانونه
که باران اوري اودې اوري
واورې دې نهٔ اوري چې لارې بندوینه
باران د زمکې ابادي ده
شیرینه یاره زهٔ په تا اباده یمه

هلک یا عاشق بیا باران ته په دې دعا یا غوښتنه دے :

بارانه ورو ورو را ورېږه
لیلا سالو لرې کوي لمده به شینه

بل نارينه په غريبۍ او خوارۍ پسې ورک وي، دجينۍ د پلار په شرطونو او ولور پوره کولو پسې پيسو پيدا کولو له پاره لرو لرو وطنونو ته اوځي:

دهندوستان په مېرو ورکه
تر ګل نازکه ياره خدا ے به دې ساتينه
دهندوستان په مېرو ورکه
راځه راځه روزي به خدا ے را رسوينه

دوبېتۍ کښې بيا معشوقه خپله همدردي داسې بيانوي :

سفر کردی، سفر دور کردی
مرا از دوريت رنجور کردی
خودت رفتی برای مال دنيا
دلم را خانه زنبور کردی[4, ۱۷۳]

ځو چې دا شنهٔ غنم لو کېږي
ما به لالے په ژړا ستړې ستړې کينه

يو کال به نوره درته کښېنم
زيارت خو نهٔ ئې چې جنډې به دې ساتمه

د دوبېتۍ وېناوال بيا دښځينه ؤ په مناسبت زياتره نارينه وي، لامل ئې دادے چې جينۍ دکبر او ښائست په نيلي سپره ده او دمړې خېټې پاړسي وائي، دعاشق زحمت ته نهٔ ګوري، ټول تکليف په هلک تېرېږي، دغربت په منګولو کښې هم يواځې او يواځې عاشق نغښتي وي، بل دا دلته په کليوالو سيمو کښې جينۍ له کوره د وتلو کومه پلمه او لاره نهٔ لري، دلته ددواړو لوريو دجدايۍ يو ځو شاعرانه بېلګې ليکو:

الا دختر، بيا با بستر مه
بيا بابستر بی دلبر مه
دمی که جان خود باحق سپردم
خودت ياسين بخون بالای سر مه [4, ۱۴۴]

لنډۍ:

سورت ياسين را باندې وايه
په ما خولې دځنکدن راغلي دينه

قلم! نوک تو ام بردیده یومی[۱]
زبونچک، با دل رنجیده یومی
قلم از دست من افتاده جانا
قلم کاری گر سنجیده یو می [4, ۱۷۰]

لنډۍ:

خط مې لیکلو تهٔ رایاد شوې
قلم مې مات شو کاغذ اوښکې تویوینه

به پشته ی لاله وایم[۲] از جدائی
به رنگ کهر بایم از جدائی
همه می گن[۳] جدائی کن جدائ
به مرگ خود رضایم ازجدائ[4, ۱۷۳]

لنډۍ:

جدائي مه راولې خدایه
مرګ مې قبول دي جدائي نهٔ قبلومه

نشسته در کمین من جدائی
غم قلب حزین من جدائی
کشیده کاتب قدرت قلم را
نوشته باجبین من جدائی

لنډۍ:

بېلتون په لوړه غونډه ناست دے
قلم په لاس دے دوه یاران جدا کوینه

خو د نارینه ؤ ترځنګ لکه څنګه چې په لنډیو کښې دنارینه ؤ احساس شریک دے، او دهغوي له خولې وئیل کېږي، هم داسې دوبېتیو په وئیلو کښې ښځینه احساس هم ځان ګډوي -

دوبېتي:

---

[۱] بردیده من
[۲] نام جای
[۳]می گویند

شمال امدشمال شال مرابورد
تلاشی امد ویار مرا بورد
الهی تلاشی خیر نه بینه
همو[۴] یاری وفارار مرا بورد

لنډۍ: هم دا احساس بیا په لنډۍ کښې هم دښځینه له خولې راڅرګندېږي چې له خپل معشوق سره دمینې څرګندونه کوي:

په عسکرۍ دې خپه نۀ یم
خپه په دې یمه چې ګوشې دې لېږینه

دوبېتي:

سفید هستي مه پوش کالای سیاه را
به جلوه میکوشی ظالم تو مارا
به جلوه میکوشی خون دارو میشی
جوان هستم بیبن روی خدا را

لنډۍ: دسپینو او توروجامو ذکربیا په لنډیو کښې په دې احساس شوے دے :

څنګه په سپینو جامو ګرځې
رب دې عاشق که چې خیرن دې اووینمه

تورې جامې واچوه یاره
تورې جامې درسره لا مزه کوینه

دلنډۍ او دوبېتي ښکلائیزې خواووې: لنډۍ دپښتو شعر هغه هنري انځوریز کلام دے چې په لوړه ادبي قریحه، فصاحت، بلاغت رامنځته شوے او په ادبي نازکخیالی لوړ هنري ذوق دژوندانۀ بېلابېلې خواووې په طبعي او عاطفي ژبه وړاندې کوي ـ

دوبېتي هم دلنډیو په څېر ادبي نازکخیالي لري او د اولس لوړ ذوق، پاک احساسات او دژوندانه بېلابېلې شبېې په هنري او عاطفي ژبه وړاندې کوي چې له همدغو انځورونو دټولنې د وګړیو ذوق او غوښتنې څرګندېږي ـ

په لنډیو کښې خوځنده یا حسي انځورونه چې دانساني ژوند اړخونه څرګندوي ډېر ښکاري ـ په دغو هنري او شاعرانه انځورونو کښې له باد، سپوږمۍ، لمر، کاڼو، بوټو، ګودر،منګي او په ټوله کښې له ناشعوره څېزونوسره خبرې کېږي ـ

[۴] همان

دمازیگر زېړیه لمره!
په روغو وایه درنځورو سلامونه

ځمکې دخدای روي مې دروړے
چې خاورې نۀ کړې نازولي صورتونه

ددامان باده یار ته وایه
دځنکدن سلګۍ وهم تا یادومه

سپینې سپوږمۍ حال راته وایه
چې مې جانان مجلس له چاسره کوینه

سپوږمیه سر وهه راخېژه
یار مې دګلو لو کوي ګوتې رېبینه

دغه انځورونه په دوبېتیو کښې هم ځان راښائي۔
دهنري ارزښت له مخې مونږ دوه ډوله لنډۍ او دوبېتي لرو:

• هغه لنډۍ او دوه بېتۍ چې په مصنوعي توګه رامنځته شوې یا بدیعي ښېګنې یا ادبي صنعتونه ئې مصنوعي وي۔

خبرې کړې شونډې دې رېږدي
لکه سورګل چې د سبا شمال وهینه

جدای های توای نور دیده
قد شمشاد ما را خم کشیده
چنین بی رحم اندر دار دنیا
نه کس دیده نه کس اصلا شنیده [4, ۱۳٦]

لنډۍ:

قد دې شمشاد زلفې دې پاڼې
دا نرۍ وروځې دې کوکنار کرلي دینه

• هغه لنډۍ او دوبېتۍ چې له ادبي صنعتونو پرته رامنځته شوې وي او یو ښکلي طبیعي انځور وړاندې کړي، په لنډیو کښې دغه برخه درَنه ده او له دې برخې نه دخلکو لوړ ذوق او هنري استعداد ښکاري۔ لکه څنګه چې دغه شعرونه طبیعي او د اولس له پاک زړۀ راوتلي دي نو ښه ئې هم طبیعي وي۔

خبرې لنډې لنډې اوکه
دلارې سر دے څوک به ځي څوک به راځينه

په دې لنډۍ کښې اوس کوم ادبي صنعت نۀ شته، خو د يوځانګړي حالت انځور وړاندې کوي -

خدايم سال پار سال بياره
به تنګی کوچ مالداره کوچی بياره
به تنګی کوچ مالدارم چی باشه
همون° سبزه خالداره بياره [4, ۱۷۳]

## ۹ اسطوره

اسطوره هم په اولسي ادب کښې يو ځانګړي ځاے لري، اسطوربې کيسې زياتره اولسي رنګ لري - په لنډيو او دوبيتيو کښې (دپيري يا جن، ښامار،ديب، سيمرغ او...) اسطورې ډېرې تکرار شوې دي، اسطوره هم د اولس دذهنيت زيږنده ده، نو په هم دې بنسټ هغه څۀ چې د اولس له خوا رامنځته شوي وي او په اولس کښې مشهور وي، هغه د اولسي يا فولکلوري ادب په بېلابېلو ژانرونو کښې ځان راښائي:

همځولو ننګ راباندې اوکړئ
په تور ديبي مې ودوي ژړا راځينه

د تا په سترګو کښې پيريان دي
چې په تا راشي جوتې ماته راکوينه

دښاپيرو په کلي راشه
چې په سورکو شونډو دې تنده ماته کړمه

بدرۍ جمالې باکمالې
د ناز د لالې په خندا دې ستي کړمه

بېلتون ښامار په لارکښې پروت دے
د پاړوګر اشنا مې هېر شول منترونه

دې ته ورته په يو شمېر نورو لنډيو او دوبېتيو کښې هم دغه اسطورې په لنډيو او دوبېتو کښې انځورشوې دي -

° همان

## ۱۰ پائله

ددې ليکنې پائله دا راوځي:

لنډۍ او دوبېتي په لويه کښې د اولسي ادب دوه منظومې وېناوې دي چې په يو ټاکلي وزن کښې خبرې د هنر په ګاڼه ښائسته کوي.

لنډۍ زياتره مهال دښځينه احساس او دوبېتي تر ښځينه د نارينه ؤ احساس زيات ځرګندوي.

په لنډيو او دوبېتيو کښې دافغان اولس احساسات، عواطف او غوښتنې په انځوريزه بڼه وړاندې کېږي.

لنډۍ او دوبېتي دواړه د اولس په ژبه رامنځته شوې دي، خو دټولنې له پرمختګ او علمي کېدو سره دغه دوه اولسي ژانرونه، زمونږ باسوادو شاعرانو هم پاللي دي.

دلنډۍ او دوبېتي بل لوي صفت دادے چې د فولکلوري اصل له مخې ئې وېناوال او زمانه مشخصه نۀ ده.

لنډۍ په اولس کښې په څو نومونو( مصرعه، ټپه،ټيکۍ) يادېږي ـ دوبېتي په اولس کښې دترانې په نوم هم يادېږي، چې دغه نوم ئې له ټنګ ټکوره خپل کړے دے، اولسي سندرغاړو به سرود يا ترانه ورته وئيله ـ څۀ رنګه چې دا دخلکو مال دے او په کليو کښې رامنځته شوے دے، نو هم داسې هم اغه کليوال ارزښتونه ئې هم ساتلي دي.

## حوالې

[۱] اريانا دائرته االمعارف، ( ۱۳۸۹)،دافغانستان دعلومو اکاډمي، کابل: نبراسکا مطبعه

[۲] ازمون، لعل پاچا، ( ناچاپ)، دپښتو فولکلوري ادبيات

[۳] ازمون، لعل پاچا،( ۱۳۹۳)، دافغانستان دفولکلور سرچينې، ختيځې سيمې ليکوالو اوژورناليستانو خپلواکه ټولنه، پېښور: دانش چاپ خانه

[٤] ساقي، نبي، (۱۳۸۸)، دوبېتی هائ مردمیی غور، کابل، انشارات سعيد